**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۷** **نېټه: ۸ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

---

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۱/۲ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۵/۹ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د محترمې عالي شورى د غړو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون د سترې محکمې د محترمې عالي شورى جلسه دایره شوه چې اتمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

((که دواړه لوري (طرفین) د خپلو صادر شویو فیصلو نقلونه (کاپیانې) له محکمو څخه وغواړي، آیا د فیصلې نقل (کاپي) دې ورکړل شي که څنګه؟ په دې اړه د عالي مقام څخه د هدایت غوښتونکي یو.))

د سترې محکمې محترمې عالي شورى د ۱۴۴۴/۱/۲ هـ ق نېټې په جلسه کې د اتمې فیصلې پر بنسټ لاندې هدایت وکړ:

((ټولې محکمې باید اصلي فیصله محکوم له او د فیصلې یو نقل (کاپي) محکوم علیه ته ورکړي او یو نقل دې په محکمه کې وساتي. د دارالانشاء عمومي ریاست دې دا هدایت د متحدالمآل په بڼه ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً، د اتمې موضوع په تړاو د سترې محکمې د عالي شورى د محترم مقام فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجرأت وشي.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.